دو فصلنامۀ
علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنيزه شپږ میاشتنۍ مجله

د امتیاز خاوند: لوگر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسۀ تحصیلات عالی لوگر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# په اسلام کې د ټولنیز اقتصادي تکافل مطالعه

**پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامي**

اسلامي ثقافت دیپارتمنت، شرعیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون. کابل: افغانستان.

برېښنالیک: khuwajahmuhammad@gmail.com

**لنډیز**

**د مسئلې بیان**: له شک پرته انساني طبعیت له بخل سره انس او بلدتیا لري، دا حالت د دې لامل گرځي چې شتمنیو کې واجب او مستحق حقوق اداء نه شي؛ د حقوقو نه اداء کول په ټولنه کې فقر، بیکاري او جرمونه رامنځ ته کوي. که مسلمان پخپلو شتمنیو کې حقه حقوق اداء کړي؛ په ټولنه کې ټولنیز اقتصادي تکافل رامنځ ته کېږي.

**موخه**: د څېړنې موخه داده چې په ټولنه کې د ټولنیز اقتصادي تکافل پر تحلیل او تطبیق څنگه اقتصادي سمون او رغونه رامنځ ته کړو؛ که دغه مسئله په اکاډیمیکو مرکزونو کې په ځانگړې توگه وڅېړل شي؛ نو د خلکو ترمنځ به عمومي پوهه رامنځ ته شي، د ټولنیز اقتصادي تکافل تطبیق به عام شي؛ د فقر، بیکارۍ او جرمونو کچه به کمه، په امنیت او اقتصاد به مثبتې اغیزې ولري.

**تگلاره**: پدغه څېړنه کې د تحلیلي او تطبیقي تگلارې څخه کار اخېستل شوی دی.

**پایله**: د څېړنې پایلې ښکاروي چې: ټولنیز اقتصادي تکافل په اسلامي اقتصاد کې د مال د بیاځلي وېش یوه مهمه او با ارزښته وسیله ده او په اسلامي ټولنه کې د غربت او فقر کچه کموي.که چېرته واجبه مالي حقوق په ښه ډول اداء شي؛ اقتصاد ورسره وده او پرمختگ کوي.

**کلیدي کلیمې**: تکافل، اقتصاد، ټولنیز، اسلام، زکات

**استناد**: عصامي، خواجه محمد (۱۴۰۳). په اسلام کې ټولنېز اقتصادي تکافل، د **عینک** علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنۍ مجله، لومړی کال، دویمه گڼه: ۱۴۳-۱۶۲.

خپرندویه اداره: لوگر د لوړو زده کړو مؤسسه
© د لیکوال یا لیکوالانو حق.

**سریزه**

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وآله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

أما بعد: لکه څرنګه چې انساني طبعیت له بخل او کنجوسۍ سره انس او بلدتیا لري، دا حالت د دې لامل ګرځي چې په مالونو او شتمنیو کې واجب او مستحق حقوق اداء نه شي. د حقوقو نه اداء کول په ټولنه کې فقر، بیکاري او جرائم رامنځ ته کوي. ټولنېز اقتصادي تکافل په خپل ذات کې داسې وسائل او ابزار لري، چې پرمټ یې د ټولنې اقتصادي وضعیت مثبت بدلون موندلی شي. په دې شرط چې دغه شتمنۍ په سمه توګه راټولې شي او بیا په ټولنه کې بیرته په سمه توګه وویشل شي. څېړنه په تحلیلي او تطبیقي کړنلارې رامنځ ته شوې؛ ترڅو د ټولنېز اقتصادي تکافل ابزار تحلیل او وڅېړل شي، بیا د مال او شتمنیو پر ویش او توزیع تطبیق شي. اقتصاد او امنیت د ژوند هغه دوه عنصرونه دي، چې شتون یې د بشریت په ژوند کې خورا اړین او ضروري بریښي او د ژوند په ټولو برخو کې لازم او ملزوم ګڼل کیږي؛ د شتمنیو د سمې پانګونې سره سره باید د هغو سم بیاځلي ویش په ټولنه کې په داسې طریقه وشي؛ ترڅو په اسلامي ټولنه کې هیڅوک محروم او ناچاری پاتې نه شي. د همدغې فلسفې پر بنسټ رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته لارښوونه وکړه؛ چې په یمن کې د شتمنو وګړو څخه زکات راټول کړي؛ او د ټولنیز تکافل او بسنې لپاره یې بېرته دې هماغې منطقې پر مسکینانو او غریبانو وویشي؛ ترڅو په ټولنه کې شتمني ګردش او سرکولیشن پیدا کړي او د انسانانو په ژوند کې د تعلیم، صحت، چاپیریال ساتنې او نورو برخو کې مثبت تغییرات او بدلون راشي او ټولنه د یو مثبت لور په خوا حرکت او یون پیل کړي. د بیکارۍ، فقر، او جرائمو ګرافونه په ټولنه کم او یا یې هم کچه راټیټه شي.

د دغې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې اقتصاد د ټولنو د ژوند یوه اړینه برخه ده او د انسانانو مادي ژوند پر اقتصاد ولاړ دی، چې معنوي ژوند ته لاره هواروي، حلاله او مشروعه شتمني لاس ته راوړل په اسلامي اقتصاد کې عین عبادت دی. په شتمنیو کې مالي حقوق اداکول یوه دیني فریضه او وجیبه ده، چې د نصاب په پوره کېدلو سره باید ادا شي. په اسلامي اقتصاد کې ټولنیز اقتصادي تکافل خورا ارزښتمن او د اقتصادي ستونزو د حل لارې لوی میکانیزم دی. د ټولنېز تکافل وسائل په اسلامي اقتصاد کې د مال د ګردش او سرکولیشن لویه وسیله ده، چې پرمټ یې د مال عادلانه ویش ته زمینه برابریږي او ټولنه په اقتصادي لحاظ پرمختګ کوي.

که چېرته د څېړنې پورتني ارزښت ته پام وکړو دا به راته جوته شي، چې په عمومي ډول شریعت د مسلمانانو ترمنځ په اتحاد، اتفاق او یووالي ډېر زیات ټینګار کړی دی او ټولو مسلمانانو ته یې لارښوونه کوي؛ ترڅو په اقتصادي چارو کې یو د بل لاسنیوی وکړي؛ که چیرته یو مسلمان موړ وي او د څنګ ګاونډی یې وږی وي؛ نو په مسلمانۍ کې یې کمي ده؛ دغې فلسفې ته په کتنې سره د شریعت فقهاوو

او د اسلامي اقتصاد پوهانو لخوا په تکافل باندې ډيرې څيړنې او بحثونه شوې دي، چې دغه مواد اکثريت مطلق په عربي او انگليسي ژبو ليکل شوې دي او په پښتو ژبه کې زما د علم او پوهې مطابق کوم داسې علمي بحث نه دی تر سترگو شوی، چې دغه موضوع په علمي توگه وڅېړي؛ ارزښت، د موضوع ستونزه، د موضوع ټول اړخونه او بالاخره په اسلامي اقتصاد کې لوستونکو ته د ټولنيز تکافل وسائل او عملي تطبيقات وړاندې کړي دي. د همدغې اړتيا له مخې مې لازمه وگڼله چې پر دغې موضوع علمي بحث وکړم.

دا چې هره څېړنه يو لړ موخې لري، نو ما هم دغه څېړنه د ځينو موخو لپاره ترسره کړی ده ، چې په لاندې توگه ترې يادونه کوم: د ټولنيز اقتصادي تکافل پر مفهوم پوهېدل، د ټولنيز اقتصادي تکافل وسائل او ابزار پېژندل، د ټولنيز تکافل پر بنسټ د مال او شتمنيو ويشل ټولنه کې فقر او بيکاري کچه راکموي، د ټولنيز اقتصادي تکافل په واسطه مونږ په ټولنه کې د اسلامي همدردۍ او لاسنيونې فرهنگ او کلتور را ژوندی کولای شو، د زکات پر مختلفو احکامو پوهېدل او عمل پرې کول، چې ټولنيز اقتصادي تکافل ورسره وده کوي، د وقف، وصيت احکام پېژندل، د ټولنې پر اقتصادي چارو يې اغېزې، د واجبه کفاراتو، نذرونو، تطوعي خيراتونو او صدقاتو احکام پېژندل او په اقتصادي چارو يې اغېزې.

په پای کې دا يادونه اړينه بولم، چې دغه څېړنه به لاندې پوښتنو ته منطقي او مدلل ځوابونه ووايي:

د څېړنې اصلي پوښتنه: ټولنيز اقتصادي تکافل څه مفهوم او ارزښت لري؟ وسائل او ابزار يې څه دي؟ او په اسلامي بانکوالۍ او اقتصاد کې څه ونډه لري؟

د څېړنې فرعي پوښتنې: د ټولنې پر اقتصادي وضعيت به د زکات د ورکړې اغېزې څه وي؟ په ټولنه کې د اقتصادي تکافل مفهوم او کړنه څنگه را ژوندۍ کولای شو؟

## په اسلام کې ټولنيز اقتصادي تکافل

### لومړی مطلب: د اقتصادي ټولنيز تکافل مفهوم او ارزښت

تکافل يوه عربي کلمه ده، چې کفّل او کفل[۶۹]، څخه اخېستل شوې ده او کافل بيا نفقه پيدا کوونکي ته ويل کېږي؛ چې خپلې کورنۍ ته نفقه پيدا کوي. کفيل بيا ضامن او ضمانت کوونکي ته ويل کېږي. رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايي: (أنا وكافل اليتيم في الجنة كهاتين وشبّك بين السبّابة والوسطى)[۷۰]. ژباړه: زه او د يتيم کفالت کوونکی به په جنت کې داسې وي، بيا يې خپلې د شهادت او منځنې گوتې ته اشاره وکړه يعنې دغه ډول. تکافل بيا هغه ټولنيز ه چاره ده چې مسلمانان يو بل ته په اقتصادي چارو کې لاس ورکړي او يا هم شتمن د غريبو او کمزورو اقتصادي وگړو لاسنيوی وکړي.

---

[۶۹]: لسان العرب، مختار الصحاح ، مادة (كفل )

[۷۰]: البخاري، ( ۱۳۵)

په اسلامي ټولنه کې بايد د تکافل مفهوم راڅرګند شي؛ ترڅو مونږ هغه له لاسه تللي ارزښتونه بېرته راخپل کړو. د يتيم، کونډې، کمزوري، ناچاره او نادان لاسنيوى پر دولت او شتمنو مسلمانانو فرض او لازم دى. د هغوى روغتيا، ښوونه، جسمي او روحي غوښتونو ته مثبت ځواب ويل خورا اړين کار دى. د مظلوم مرسته، د مريض تداوي، د محتاج او ضعيف لاسنيوى، امر په ښېګڼو او منع له بديو، دا ټولې د ټولنيز اقتصادي تکافل سوژې دي، چې په اسلامي ټولنه کې بايد ورته فوق العاده پام او توجه وشي. حکومت او شتمن مسلمانان خپل مسؤوليت او مکلفيت د دغو اړمنو کسانو په مقابل کې ادا کړي؛ ترڅو مونږ يوه داسې اسلامي اقتصادي ټولنه ولرو، چې په وجود يې هر مسلمان فخر او وياړ وکړي او د نورو لپاره يوه ښه نمونه او بېلګه اووسو؛ ترڅو هغوى هم اسلام غوره کړي او اسلام ته داخل شي. يقيناً چې په دغه وخت کې به مو خپله ايماني، وجداني او ديني دنده ادا او سرته رسولې وي او د دغه آيت له خيريت او ښېګڼو لاندې به راغليو يو. قال الله تعالى: ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ﴾[۷۱]. ژباړه: (تاسو غوره امت ياست چې د خلکو لپاره پيدا کړى شوي ياست، تاسو د نېکۍ حکم کوئ او له بدۍ نه منع کوئ او په الله تعالى باندې ايمان راوړئ او که چېرې اهلِ کتابو ايمان راوړى وَى؛ نو دا به د هغوى لپاره ډېر ښه ؤ، له دوى نه ځينې اِيمان راوړونکي دي او د دوى اکثره فاسقان (بدکاران) دي)[۷۲]

د ټولنيز ي همکارۍ او همغږۍ لپاره د اسلامي شريعت نصوص ډېر واضح او کره دي، چې مسلمانان خپلو منځونو کې د يو بل مرستې، همغږۍ او همکارۍ لپاره تشويق او هڅوي. قال الله تعالى: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾[۷۳]. ژباړه: (بېشکه هم دا خبره ده چې مؤمنان خو سره ورونه دي، نو تاسو د خپلو دواړو ورونړو په منځ کې سوله کوئ او له الله تعالى نه ووېرېږئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړى شي). په بل ځاى کې الله تعالى فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾[۷٤]. ژباړه: (او تاسو له يو بل سره په نېکۍ او پرهېزګارۍ کې مرسته کوئ او د ګناه او ظلم په کار کې د يو بل مرسته مه کوئ او له الله تعالى نه وېرېږئ، بېشکه الله تعالى ډېر سخت عذاب ورکوونکى دى).

له پورته آيتونو څخه دا جوته کېږي، چې اسلام انسانان د يو بل مرستې او کومک ته هڅوي؛ مسلمانان سره ورونه ګڼي او مسلمان بايد يو بل ته په نېکو کارونو توصيه وکړي، يو د بل لاسنيوى په

---

[۷۱]: آل عمران: ۱۱۰.

[72]: موسوعة القرآن الكريم پښتو ژباړه

[۷۳]: الحجرات: ۱۰.

[۷٤]: المائدة: ۲.

ښو اعمالو کې وکړي او په بدو کارونو کې د يو بل له مرستې او لاسنيوي ډډه وکړي. د ظلم او گناه څخه ځان وساتي. که داسې ونکړي؛ نو د الله تعالی په عذاب به اخته شي. رسول الله -صلی الله عليه وسلم- هم د تکافل او همغږۍ لارښوونه خپل امت ته کوي او د مسلمانانو د ټولنيزې همغږۍ او همکارۍ داسې بېلگه وړاندې کوي لکه: يو محکم او مضبوط دېوال چې سره متماسک وي او يا هم د يو واحد جسد انځور چې کله يې يو غړی په درد راشي؛ نو ټول بدن ورسره ناکراره او نارامه وي. داسې فرمايي: ((الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضاً وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ))[٧٥]. ژباړه: (مؤمن د مؤمن لپاره د يو مضبوط ساختمان بيلگه لري، چې يو بل په خپل منځ کې سره رانغښتی وي او بيا يې خپلې گوتې يو په بل کې سره ننويستې؛ يعنې دغه ډول).

بل ځای يې فرمايلي دي: ((مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌتَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى))[٧٦]. ژباړه: (د مؤمنانو بيلگه په دوستۍ، ترحم، او شفقت کې داسې مثال لري لکه د يوه جسد، که چيرې يې کوم غړی په درد شي؛ نو ټول بدن او جسد ورسره په تبه او تکليف کې وي)

د دين لارښوونو ته په کتلو سره، حکومت او د مسلمانانو شتمنو ته دا نه ښايي، چې دوی دې له خپلو مکلفيتونو مخ واړوي او ټولنې ته دې شاکړي، بلکې د هر شتمن مسلمان وگړي سره بايد دا احساس وي، چې د خپل توان په اندازه مرسته او کومک د ټولنې له محرومو طبقاتو څخه ونه سپموي او د اړتيا پر مهال د هغوی لاسنيوی وکړي. دغه د تکافل مفهوم او لارښوونې بيا په کپيټليزم او يا کمونيزم اقتصادي سيستمونو کې نه ليدل کېږي؛ بلکې برعکس په يوه کې يې فردگرايي او په بل سيستم کې يې جامعه گرايي غالبه ده. اسلامي اقتصادي نظام همېشه دا کوښښ کوي؛ ترڅو مال او شتمني له حلالو او مشروعو کانالونو لاس ته راوړی. توزيع او مصرف يې بېرته په ټولنه کې په داسې ډول وشي، چې هېڅوک د ژوند له اړينو توکو او اجناسو څخه محروم پاتې نشي؛ او هرچاته په ټولنه کې يو باعزته او باکرامته ژوند برابر وي.

**دويم مطلب: په اسلامي اقتصاد کې د ټولنيز تکافل وسائل**

په اسلامي اقتصادي نظام کې د ټولنيز تکافل، مرستې او همغږۍ داسې وسائل او ميکانيزمونه شتون لري، چې په پلي کولو يې ټولنه کې اقتصادي سمونتيا او غښتلتيا رامنځ ته کېږي او د ټولنې ټول وگړي. له دغو مرستو او کومکونو څخه په اقتصادي توگه برخمن کېږي، د دغو وسائلو او ابزارو تطبيق، تعميل او پلي کول د مسلمانانو ايماني، وجداني قوت، او د دولت جديت او ژمنتيا پورې تړلې خبره ده؛ څومره

[٧٥]: الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم (٤٤٢)
[٧٦]: هماغه اثر (٨٠٦)

چې د مسلمانانو ایمان قوي او روحانیت یې زیات وي او دولت هم ددغو میکانیزمونو پلي کول په جدي توګه تطبیق کړي. د دغو وسائلو اقتصادي مؤثریت به خورا ډېر شي. شخصي ملکیت ته په احترام؛ په اسلامي اقتصاد کې باید په شتمنيو کې زکات، صدقات واجبة، کفارات واجبة، نفقات واجبة، صدقات مستحبة، قرض حسن، عاریت، واجبه قرباني، او دولت هغه څه وکړي؛ ترڅو د اتباعو د ژوند اړین توکي برابر وي او په ټولنه کې څوک په اقتصادي لحاظ محروم پاتې نشي.

## زکات او احکام يې

زکات په لغت کې نمو، رشد او پاکوالي ته ویل کېږي[۷۷].

زکات په اصطلاح کې يو ټاکلی اندازه مال چې شرعاً په مالونو کې واجبيږي؛ د يوې مخصوصې او ټاکلې برخې وګړو ته؛ چې د ځانګړو شرائطو په موجوديت کې ورته ورکول کېږي[۷۸].

## د زکات د فرضيت او وجوب دلائل

۱- الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ ﴾[۷۹]. ژباړه: (او تاسو لمونځ قايموئ او زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ).

۲- نبوي سنت: (( بنيَ الإسْلامُ عَلَى شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ ، وَإِقَامِ الصَّلاةِ ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَحَجِّ الْبَيْتِ، وَصِيَامِ رَمَضَانَ وَيُقَالُ لَهُ: صِيَامِ رَمَضَانَ، وَحَجِّ الْبَيْتِ))[۸۰]. ژباړه: ( اسلام عبارت دی له کلمي، لمونځ، زکات، روژه، حج بيت الله).

زکات هغه څه دي؛ چې يو مسلمان وګړی يې د ايمان د موجوديت او قوت په اساس ورکوي؛ ترڅو خپله ديني فريضه ادا کړي او پر دې ښه پوهېږي چې دغه ورکړه ورته د قيامت پر ورځ بيلانس او کريډيټ کېږي؛ ترڅو يې د کاميابی او برياليتوب لامل وګرځي. ماليه، ټکس بيا هغه څه دي چې د حکومتونو لخوا پر وګړو تحميل کېږي، هر وخت چې د قانون سترګه پټه شوه، خلک دا کوښښ کوي، چې له دغه مکلفيت څخه تيښته وکړي او خپلې شتمنی له مالياتو او ګمرکي تعرفو څخه وساتي ،چې د زکات او ماليې ترمنځ همدغه لوی او واضح توپير دی.

۷۷: لسان العرب، مختار الصحاح، مادة (زكى)

۷۸: معجم الاصطلاحات الفقهية، ص: ٦٥.

۷۹: البقرة : ۴۳.

۸۰: المعجم الأوسط للطبراني، (۲۰۵)

## د زکات د ورکړې اقتصادي اغېزې او اثرات[۸۱]

۱- زکات د مالونو او شتمنيو د بياځلې وېشنې غوره لاره او طريقه ده، چې په اساس شتمنۍ او مالونه په ټولنه کې بېرته تقسيم او وېشه پيدا کوي؛ فقيران، غريبان او د ټولنې ناچاره او ناداره وګړي ترې ګټور کېږي.

۲- زکات د پانګې اچونې او استثمار لپاره غوره وسيله ده، چې په اقتصادي مفهوم کې مال د جمود او کنګوالي حالت څخه ژغوري او شتمن پانګې اچونې ته تشويق او هڅوي.

۳- زکات د اقتصادي بيارغونې غوره وسيله ده، چې په ادا کولو يې مناسب اقتصادي چاپېريال رامنځ ته کېږي او د جرم او مجرمينو مخنيوی کېږي، چې په اغلبه وختونو کې فقر او بيکاري د جرم لامل ګرځي.

۴- د زکات ورکړې سره د ټولنې د وګړو اقتصادي حالت بهبود مومي، صحي، تعليمي او ټولنيز وضيعت يې مثبت بدلون پيدا کوي.

۵- د زکات په ورکړې سره ټولنيز تکافل رامنځ ته کېږي او د دولت له بوديجې څخه بار کميږي، د ټولنې وګړو ته د عائد د راتګ ذريعه برابريږي.

## هغه شتمنۍ او مالونه چې زکات په کې واجبېږي

په عمومي ډول په اسلامي اقتصادي نظامکې چې په کومو مالونو او شتمنيو کې زکات واجبېږي هغه په څلورو برخو وېشل کېږي:

**۱- الأثمان (النقدين)** طلا، نقره،، اوسني معاصر بانکنوټونه او فلزي پيسې چې د حکومتونو لخوا چاپ او خپرېږي.

**۲- السائمة من بهيمة الأنعام** (هغه حيوانات؛ لکه: غواګانې، ميږې، اوښان او دې ته ورته نور حيوانات چې ټول کال په دښتو او بيابانو کې څر کوي).

**۳- الخارج من الأرض** (هغه څه چې د ځمکې څخه لاس ته راځي لکه: غنم، اوربشي، جوار، ميوه جات (خرما، مميز)، معدنونه (اوسپنه، ګاز، او دې ته ورته).

**۴- عروض التجارت** (هر هغه څه چې د خرڅلاو او اخيستلو په موخه ښکته او پورته کېږي او هدف ترې مالي ګټه وي.

## د زکات د وجوب شرائط

په عمومي ډول د زکات د وجوب شرائط په لاندې ډول دي:

**۱- آزادي او حريت:** چې رق او غلامي د آزادۍ ضد دی. د دې لپاره چې د غلام مال د هغه د بادار

[۸۱]: النظم الاقتصاديه المعاصره، ص: ۱۳۳.

دی؛ خو معلومه ده چې اوسمهال د مسلمانانو په هېوادونو کې غلامي وجود نلري.
**۲- الاسلام:** د زکاتد ورکړې اساسی شرط دی، زکات له کافر او مرتد څخه قابل قبول نه دی.
**۳- ملك النصاب** (هغه مقدار مال ته ویل کېږي چې په پوره کېدلو سره یې په ټاکلو او معلومو مالونو او شتمنیو کې زکات واجبېږي، چې د هر مال نصاب او اندازه توپیر کوي. هر وخت چې یو انسان په مال کې د ټاکلي نصاب او اندازې خاوند شو؛ نو زکات بیا په هماغه مال کې واجبېږي. د بېلګې په توګه د اوښانو نصاب پنځه رأس دي، د میږو نصاب څلویښت رأس دي، د طلا نصاب پنځه اتیا ګرامه فما فوق دی، او د نقرې پنځه سوه او پنځه نوي ګرامه فما فوق دی. که څوك د پورتینو ټاکلو اندازو په مقدار مالونه او شتمنۍ ولري؛ نو قطعاً د هغوی په مال کې زکات واجبېږي.
**۴- تمام الملك:** استقرار او ثبات یې؛ یعنې یو شخص باید د خپل د مال او شتمنۍ په ټوله معنا مالك وي د بل چا حق مال پورې نه وي تړلی، په خپل ملکیت کې د هر ډول مالکانه واك او اختیار خاوند وي.
**۵- تمام الحول** (یعنې د یو کال پوره کېدل، چې شخص د معین مال خاوند وي. باید یو هجري قمري کال پرې واوړي او یا د مال د شخص په ملکیت کې پروت وي؛ نو بیا به یې زکات ورکوي. بعضې مالونه بیا له دغه شرط څخه مستثنا دي لکه: عروض التجارت (هغه مالونه چې د تجارت په موخه ښکته او پورته کېږي؛ نو د نصاب پوره کېدلو سره په اصل مال کې زکات واجبېږي) او یا هم هغه څیزونه چې هغه میوه جات، او یا نور زراعتي محصولات او حبوبات وي، د حاصل د راټولولو په وخت کې په کې زکات واجبېږي.
دې شرائطو ته په کتلو سره چې په مالونو او شتمنیو کې پوره شول، باید د مال او شتمنیو زکات اداء شي او هغو اصنافو ته ورکړل شي، چې په اسلامي شریعت کې تعیین شوې دي. البته د یادونې وړ ده چې په حکومتي مالونو او شتمنیو کې زکات نه شته. د دې لپاره چې حکومت خپله د زکات د راټولو مرجع دی او د تقسیم او توزیع مسؤولیت لري، بیت المال د مسلمانانو شریکه خزانه ګڼل کېږي او ټول مسلمانان په کې حق لري؛ نو زکات هم په کې نه شته.

### د زکات اړوند فقهي احکام (نقدین، اجناس)

د سرو زرو، سپینو زرو، او بانکنوټونو د زکات فقهي احکام

په سرو، سپینو زرو، او بانکنوټونو زکات واجبېږي، او د وجوب په اړه یې الله تعالی داسې فرمایي: ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾[۸۲]. ژباړه: (او هغه کسان چې سره زر اوسپین زر خزانه کوي او هغه د الله په لاره کې نه لګوي، نو دوی ته د ډېر دردوونکي

[۸۲]: التوبة : ۳٤.

عذاب زېرى وركړه). او رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يې د وجوب په اړه داسې فرمايي: (مَا مِنْ صَاحِبِ ذَهَبٍ وَلاَ فِضَّةٍ لاَ يُؤَدِّى مِنْهَا حَقَّهَا إِلاَّ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ صُفِّحَتْ لَهُ صَفَائِحَ مِنْ نَارٍ فَأُحْمِىَ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَيُكْوَى بِهَا جَنْبُهُ وَجَبِينُهُ وَظَهْرُهُ كُلَّمَا بَرَدَتْ أُعِيدَتْ لَهُ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ)[۸۳]. ژباړه: (هغه څوك چې د طلا او نقرې خاوند وي او د زكات شرائط يې پوره كړي وي زكات يې ورنه كړي؛ نو د قيامت پر ورځ به ورته د اور اوسپنيزه تختې جوړې شي او تندى، څنگونه، او شا به يې پرې وداغل شي، چې كله سړې شي، بيا به بېرته تودې شي او بيا ځلې پرې وداغل شي؛ ترڅو الله تعالى د خپلو بندگانو اړوند فيصله وكړي). پورتنی آيت او حديث دواړه د زكات پر وجوب دلالت كوي او مالونه چې پر شرائطو برابر شي، بايد چې زكات يې وركړل شي.

**د طلا او نقرې نصاب او اندازه**

د فقهې د پوهانو له انده د طلا نصاب او اندازه ( ۸۵) گرامه ده او د نقرې اندازه بيا ( ۵۹۵) گرامه ده، كه په دغه اندازه سره او سپين څوك ولري او د زكات نور شرائط پوره كړي؛ نو په شته مال كې زكات لازمېږي[۸٤].

اوسني بانكنوټونه: دغه اوسنيو بانكنوټونو د طلا او نقرې ځای نيولی، او نغدي ارزښت لري او د هر وطن پولي واحد، ځان ته نغدې پيسې گڼل كېږي. پر طلا او نقرې يې قياس كېږي او زكات په كې واجبېږي.

د بانكنوټونو زكات كوم معين مقدار او نصاب نه لري، بلكې قيمت او ارزښت يې د سرو او سپينو قيمت پورې تړلی دی؛ خو دا هم يو حقيقت دی چې د هر وطن بانكنوټ ځان ته نغدې پيسې شمېرل كېږي. د بانكنوټونو زكات د نقرې د نصاب او قيمت په اساس وركول كېږي او دغه كار د فقيرانو دې گټې لپاره مد نظر نيول شوی دی.

**د بانكنوټونو د زكات د وركړې حسابي طريقه**

د بانكنوټ نصاب= د سپينو زرو د مقدار نصاب× د يو گرام قيمت پر افغانۍ.

كه چېرته د يو گرام سپينو زرو قيمت په بازار كې (۳۰۰) افغانۍ وي؛ نو د بانكنوټ نصاب= ۵۹۵ × ۳۰۰ = ۱۷۸۵۰۰ افغانۍ د بانكنوټ د زكات نصاب تری جوړېږي. كه څوك ياد شوی رقم د پيسو ولري او د زكات نور شرائط يې تكميل كړي وي، زكات پرې لازمېږي.

---

[۸۳]: رواه مسلم ( ١٦٤٧)

[۸٤]: المعاملات المالية المعاصرة في الفقه الإسلامي، ص: ١٥٩.

### د زکات اندازه په نقدینو او بانکنوټونو کې

که څوک طلا، نقره، بانکنوټونه ولري او د زکات اړوند شرائط يې پوره کړي وي؛ نو بايد (۵ ,۲٪ ) يعنې پر (۱۰۰۰) کې (۲۵) افغانۍ زکات ورکړي، داسې وېشل کېږي: (۱۷۸۵۰۰ × ۰,۰۲۵ = ۴۴۶۲,۵)، او یا هم دغه پورته عدد (۱۰۰٪۷۸۵۰۰= ۱۷۸۵× ۲,۵ = ۴۴۶۲,۵.

او یا هم په مستقیم ډول پورته عدد چې عبارت دی له ( ٪۱۷۸۵۰۰ ۴۰ = ۴۴۶۲,۵).

پورتنۍ د رياضي هر فارمول څخه چې کار واخلو، موږ ته به د زکات مستحق عدد راکړي؛ ترڅو یې مستحقینو ته ورکړو.

### د بهيمة الأنعام د زکات فقهي احکام

بهيمة الانعام ټول هغه حيوانات چې غوښه يې شرعاً حلاله وي، لکه: اوښان، غواګانې، میږې، اوزې، او دې ته ورته نور حیوانات په دې شرط چې هغه سائمة وي؛ يعنې په کال کې شپږ میاشتې فما فوق له هغو شنو وښو او بوټو څخه خوراک او څښاک وکړي، چې په طبيعي ډول په صحراوو او یا هم مالځړ ځایونو کې راشنه کېږي او څېښتن يې هېڅ ډول خرڅ او مصرف پرې نه کوي. که چېرته ياد حيوانات په خاصو پنډځایونو کې وساتل شي، خوراک او څښاک ورته په بيه واخېستل شي او موخه يې ورڅخه د شيدو او غوښې ځاني ګټه وي؛ بيا په کې زکات نه شته او که چېرته د خرڅلاو او تجارت لپاره ساتل کېږي؛ نو دا حالت ته بيا عروض التجارت ويل کېږي[85]. د زکات ورکړه يې بيا هم د عروض التجارت حکم اخلي، چې د کال په پای کې تقييم او ارزول کېږي؛ يعنې ارزښت او قيمت يې معلوم او سنجول کېږي، بیا يې زکات ورکول کېږي.

### د بهيمة الانعام د زکات نصاب او اندازه

بهيمة الانعام مختلف ډولونه لري، لکه: اوښان، غواګانې، میښې، اوزې، میږې، او دې ته ورته حیوانات؛ او د هر ډول نصاب او مقدار معلوم دی او له دغه نصاب څخه چې کم وي زکات پرې نه لازمېږي.

- په پېنځه اوښانو کې یو جونګی زکات دی.
- په دېرشو غواګانو او یا میښو کې یوه غوا زکات ده.

په څلويښتو میږو او یا هم اوزو کې یوه میږ یا اوزه زکات ده.

يادونه: څومره چې عدد پورته ځي او ډېرېږي؛ نو د حيواناتو رأس هم اضافه کېږي، چې د تفصيلاتو ځای يې فقهي کتابونه دي او مونږ ته همدومره معلومات بسنه کوي.

[85]: فقه المعاملات المالية، ص: ۱۸۰.

**الخارج من الأرض ( ځمكني محصولات)**

هغه څه چې ځمكني محصولات دي، په دې كې حبوبات، ميوه جات، معدن، عسل، ركاز او دې ته ورته نور ځمكني محصولات قابل د زكات د ادا كولو دي. الله تعالى يې په اړه داسې فرمايي: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾[۸۶]. ژباړه: (اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! له هغو پاكو (مالونو) نه انفاق كوئ چې تاسو ګټلي دي او له هغو (مالونو) نه چې مونږه تاسو لپاره له ځمكې نه را اېستلي دي او له هغه (مال) څخه چې تاسو يې خيرات كوئ، د بې كاره څيز اراده مه كوئ، حال دا چې تاسو (په خپله) د هغه اخېستونكي نه يئ ، چې د دې په باره كې تاسو سترګې پټې كړئ او پوه شئ چې يقينًا الله تعالى ډېر بې پروا، ډېر ستايل شوى دى).

هغه څه چې په زراعتي محصولاتو كې راځي، لكه: غنم، اوربشې، جوار، نخود، وريجې او دې ته ورته محصولات چې قابليت د تللو او ذخيره كولو ولري او هغه ميوه جات چې له ونو څخه اخېستل كېږي، لكه: خرما، انګور، او د وچولو او تجفيف امكان يې موجود وي زكات په كې لازمېږي؛ خو هغه ميوه جات او سبزيجات چې غالباً تازه خوړل كېږي له زكات څخه معاف دي او د معافيت لامل يې هم د دغو څيزونو چټك فاسديدل او يا خرابيدل دي، چې بزګر يې له زكات وركولو معاف شوي دي؛ ترڅو ماركيټ ته رسېږي، ډېر ترې خراب شي او خوراك ته يې هم اړتيا فوق العاده ده. كه زكات ترې واخيستل شي؛ قيمت به يې په ماركيټ كې ډېر لوړ شي او خلك به له اقتصادي مشكلاتو او ستونزو سره مخامخ شي.

**په حبوباتو او ميوه جاتو كې د زكات شروط**

۱- د نصاب پوره كېدل، چې په نبوي صاع باندې (۳۰۰) صاع كېږي او يو نبوي صاع ( ۲,۴ )كيلو ګرامه كېږي. كه چېرته ( ۲,۴ × ۳۰۰ )كې كړو؛ نو مجموع د نصاب به ( ۶۱۲)كيلو ګرامه شي او دغه نصاب چې كله پوره شي؛ نو بيا په كې عشر لازمېږي او زكات يې بايد وركړل شي.

۲- د محصولاتو ملكيت درلودل؛ د زكات د وجوب پر مهال؛ يعنې هغه محصولات چې زكات يې وركول كېږي، بايد د مالك په ملكيت كې وي؛ ترڅو يې زكات وركړل شي.

**په محصولاتو كې د زكات د وجوب مهال**

- زراعتي محصولات بايد پاخه او د راټولولو وړ شي؛ ترڅو يې زكات وركړل شي.
- ميوه جات بايد هم د اصفرار او احمرار[۸۷] حالت ته ورسېږي؛ ترڅو د زكات د وركړې جوګه شي.

---

[۸۶]: البقرة : ۲۶۷.

[۸۷]: يعنې د زيړوالي او سوروالي حالت ته ورسېږي.

پورته ياد شوی حالت چې د محصولاتو او ميوه جاتو رامنځ ته شي؛ او د راټولولو مهال يې شي؛ نو زکات په کې واجب شي. الله تعالی يې په هکله داسې فرمايي: ﴿وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلاَ تُسْرِفُوا إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾[88]. ژباړه: (کله چې مېوه وکړي او د هغه حق (عشر، زکات) د رېبلو په ورځ ورکړئ، او تاسو اسراف مه کوئ، بېشکه الله تعالی اسراف کوونکي نه خوښوي).

**يادونه:** په زراعتي محصولاتو او ميوه جاتو کې زکات په کال کې يوه دفعه لازمېږي، چې زکات يې ورکړل شي؛ نو بيا نور زکات نه شته.

### د زکات د ورکړې نصاب او اندازه

په زراعتي محصولاتو او ميوه جاتو کې د زکات نصاب او اندازه د دغو محصولاتو په اوبو لګولو پورې تړاو لري، چې په لاندې ډول قابل د توضيح او روښانه کولو دي:

۱-که چېرته يې پوره وخت د باران او يا هم طبيعي اوبه څښلې وي؛ نو ٪۱۰ په کې واجبېږي.

۲-که چېرته يې اوبه د زحمت، زيار، او شخصي لګښتونو په واسطه څښلې وي؛ نو ٪۵ په کې واجبېږي.

۳- او که چېرته د اوبو لګښت د پاس ياد شوې دواړو حالتونو څخه وي؛ نو بيا ٪۷,۵ په کې واجبېږي.

### د عروض التجارت د زکات فقهي احکام

عروض التجارت هغو مالونو او شتمنيو ته ويل کېږي، چې د تجارت په موخه ښکته او پورته کېږي؛ ترڅو د خريد او فروش په واسطه ګټه ترې واخېستل شي. ټول هغه اجناس او اعيان په کې شاملېږي، چې د تجارت په موخه له يو لاس څخه بل لاس ته انتقال مومي، لکه: خوراکي توکي، عقارات، د کور اثاثه، او نور سامان آلات چې موخه ورڅخه د تجارت په واسطه منفعت او ګټه وي او هغه کورونه او يا هم سامان آلات چې د کرايې او اجرېې لپاره تيار شوې وي؛ که څومره لوړ قيمت ولري؛ نو زکات يې په اصل کې نه شته بلکې؛ زکات يې په هغه اجره او کرايه کې دی، چې لاس ته راځي او يو کال پرې تېر شي، نصاب يې پوره شي، زکات يې بايد ورکړل شي.

په عروض التجارت کې زکات لازم او واجب دی؛ الله تعالی يې په هکله فرمايي: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلاَ تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلاَّ أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾[89].

ژباړه: (ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! له هغو پاکو (مالونو) نه انفاق کوئ چې تاسو ګټلي دي او له هغو (مالونو) نه چې مونږه تاسو لپاره له ځمکې نه را اېستلي دي او له هغه (مال) څخه چې تاسو يې خيرات کوئ، د بې کاره څېز اراده مه کوئ، حال دا چې تاسو (په خپله) د هغه اخيستونکي

[88]: الأنعام : ۱٤۱.

[89]: البقرة : ۲٦۷.

نه یئ مګر دا چې د دې په باره کې تاسو سترګې پټې کړئ او پوه شئ چې یقینًا الله تعالی ډېر بې پروا، ډېر ستایل شوی دی). بل ځای یې فرمایلي دي: ﴿ خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ ﴾[۹۰]. ژباړه: (ای نبي!) ته د دوی له مالونو نه صدقه واخله، چې ته دوی پاك کړې او په دې سره یې تزکیه وکړې او دوی ته دعا وکړه، بېشکه ستا دعا د دوی لپاره د تسکین ذریعه ده او الله تعالی ښه اورېدونکی، ښه عالم دی). د دواړو آیتونو څخه د استشهاد وجه او دلیل دا دی چې: هغه مالونه او شتمنی چې د عروض التجارت له لارې لاس ته راځي؛ نو په کې زکات واجبېږي او باید مستحقینو ته یې ورکړل شي.

### د عروض التجارت د زکات د ورکړې شروط

۱- د عروض التجارت د ملکیت څېښتن د خرڅلاو، تحفې، هدیې له امله مال او شتمنی لاسه ته راوړي.
۲- د ملکیت د لاس ته راوړلو پر مهال یې باید نیت د تجارت او خرڅلاو وي.
۳- د عروض التجارت د ټوکو مجموعي قیمت او ارزښت د طلا او نقرې د نصاب او مقدار په اندازه وي؛ چې أنفع للفقیر مد نظر نیول کېږي او هغه د نقرې نصاب او ارزښت دی؛ ترڅو په اساس یې زکات ورکړل شي.

**یادونه:** پورتنیو شرطونو ته په کتنې سره د عروض التجارت په مال کې د یو کال تېرېدل ضرور نه دي؛ بلکې؛ هر مهال چې یو شخص د عروض التجارت مالك او څېښتن شو، یاد مال پر هماغه مهال ارزول کېږي، قیمت او ارزښت یې معلومول کېږي او زکات یې ویستل کېږي. د شرعي پوهانو ترمنځ دا اختلاف هم وجود لري، چې توکي په مجموعي ډول وارزول شي؟ او که په انفرادي ډول وارزول شي؟ ترڅو یې قیمت او ارزښت معلوم شي، زکات یې ورکړل شي؛ خو راجح او غوره قول دا دی، چې د بازار د ورځې د نرخ پر اساس یې مجموعي قیمت او ارزښت وسنجول شي او بیا یې زکات اداء کړل شي.

### زکات کومو اشخاصو ته ورکول کېږي؟

الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾[۹۱]. ژباړه: (بېشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکاتونه) یواځې د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي او د هغو کسانو لپاره دي چې پر دغو باندې عامل (راټولوونکي) مقرر وي او د هغو لپاره دي د چا په زړونو کې چې الفت (مینه او اسلام ته رغبت) اچولی شي او په (آزادولو د) څټونو (د مریانو مکاتبانو) کې (به صرف کولی شي) او تاوان

[۹۰]: التوبة: ۱۰۳.
[۹۱]: التوبة، : ٦٠.

موندونکو لپاره دي او د الله تعالی په لار کې او د مسافرو لپاره (په صرف کولی شي) دغه مقرره فریضه ده د الله تعالی له جانبه او الله تعالی ښه عالم، ښه حکمت والا دی).

په پورتني آیت کریمه کې الله جل جلاله د زکات د اخېستلو او مستحق کېدلو افراد او وګړي بیان کړي دي، چې په لاندې ډول یې وضاحت اړین بولم:

۱- فقیران

۲- مسکینان

۳- العاملین (د زکات د راټولولو مامورین )

۴- المؤلفة قلوبهم (هغه څوک چې نوي مسلمانان شوي وي او د اسلامي دولت پوره توجه ته اړتیا لري).

۵- وفي الرقاب (هغه غلامان چې له خپلو بادارانو څخه غواړي آزادي ترلاسه کړي).

**۶- الغارمین** (غارم هغه چاته ویل کېږي، چې د نورو د مصلحت او اصلاح لپاره د تاوان او زیان متحمل شي).

۷- وفي سبیل الله (هغه مجاهدین چې د الله تعالی په لار کې د اعلای کلمة الله لپاره پر جګړه بوخت وي).

۸- ابن السبیل (هغه مسافر چې د ژوند لارې پرې تړل شوې وي؛ ولو که په خپل ښار، کلي او کور کې شتمن هم وي).

**دریم مطلب: تطوعي او مستحبه صدقات او خیراتونه**

تطوعي خیراتونه او صدقات هغه څه دي، چې په هر زمان او مکان کې مستحب او په اداء کولو یې افراد او ټولنې له مصیبتونو، مرضونو او بلواګانو څخه ژغورل کېږي. تطوعي خیرات او صدقات هغه څه دي، چې انسان یې بعد له مرګ څخه ارمان کوي او دا غوښتنه له الله څخه لري، که چېرته د ژوند یو چانس بیا به دنیا کې ورکړل شي؛ نو دی به د الله تعالی په لار کې خیرات او صدقه ورکړي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَأَنْفِقُوا مِنْ مَا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُنْ مِنَ الصَّالِحِينَ﴾[۹۲]. ژباړه: (او تاسو له هغه (مال) نه چې مونږ تاسو ته درکړی دی څه انفاق کوئ، مخکې له دې نه چې په تاسو کې یو کس ته مرګ راشي، بیا دا ووایي: ای زما ربه! ته ما تر نژدې مودې پورې ولې نه وروسته کوې، پس چې زه خیرات (صدقه) وکړم او له صالحانو (نېکانو) څنې شم).

یو مسلمان کولای شي خپل خیرات او صدقات په نغدې او یا هم عینې توګه فقیرانو او مسکینانو

[۹۲]: المنافقون : ۱۰.

ته ورکړي، دغه هرڅه ورته د الله تعالی پر وړاندې کريډيټ او بيلانس کېږي، اجر او بدله يې الله تعالی ورته د قيامت پر ورځ ورکوي. الله تعالی فرمايلي دي: ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ﴾[۹۳]. ژباړه: (څوك دی هغه کس چې الله تعالی ته قرض ورکړي، ډېر ښکلی قرض (حسن) نو چې هغه (الله تعالی) دغه (قرض) د دې لپاره دوه چنده کړي او د دوی لپاره ډېر د عزت اجر دی).

او رسول الله -صلی الله عليه وسلم- د صدقې او خيرات اړوند داسې فرمايي: (وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لاَ تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ)[۹۴]. ژباړه: (د هغې صدقې اجر او ثواب ډېر وي، چې له منته خالي وياو په داسې توګه ورکړل شي، چې ډېره مخفي وي؛ ترڅو چپه لاس د راسته لاس پر ورکړې خبر نشي).

د زکات مصارف او اصناف معلوم دي؛ خو تطوعي او مستحب خيراتونه هرچاته ورکړل کيدای شي، که چېرته څوك فقير او مسکين خپلوان ولري او هغوی ته صدقه ورکړي؛ نو دا بيا دوه اجره لري. يو د خپلوۍ اجر او بل د صدقې او خيرات اجر؛ په حديث کې رسول الله -صلی الله عليه وسلم- داسې فرمايي: (إِنَّ أَفْضَلَ الصَّدَقَةِ الصَّدَقَةُ عَلَى ذِي الرَّحِمِ الْكَاشِحِ[۹۵])[۹۶]. ژباړه: (غوره صدقه او خيرات پر هغه خپلوانو ډېر ثواب او اجر لري، چې هغه تا سره دښمني پالي او غريب هم وي او ته ورته صدقه او خيرات ورکړې).

**الوقف**

وقف په اسلامي اقتصاد کې د ټولنيز تکافل هغه غوره وسيله ده، چې په اساس يې خير او ښېګڼه د ټولنې محرومو وګړو ته رسېږي. اسلامي شريعت مسلمانان وقف ته تشويق او هڅولي؛ ترڅو د مالونو او شتمنيو له وقف څخه د ټولنې هغه طبقه مستفيده شي، چې د کار توان نه لري او يا هم اصلا د بېکارۍ له امله کړېږي.

**د وقف تعريف:** (حبس الأصل وتسبيل المنفعة)[۹۷] (د اصل حبسول له تصرف څخه او منفعت يې نورو ته ورکول).

وقف کيداشي په عقاراتو کې وي؛ يعنې ځمکه، باغ، کور، او يا هم په هغو منقولاتو، مالونو او شتمنيو کې وي، چې عين يې بعد له ګټې څخه نه استهلاک کېږي او بار بار د استفادې وړ وي، لکه: بيل،

[۹۳]: الحديد : ۱۱.
[۹۴]: البخاری: ( ۱۳۳۴)
[۹۵]: په معنا دې دښمنپال خپلوان.
[۹۶]: مسند الامام أحمد ( ۲۳۵۳۰)
[۹۷]: التعريفات للجرجاني، باب الواو

کولنګ، ديګي، خيمې او دې ته ورته نور سامان آلات چې د بيا ځلې استفادې وړ وي.
وقف کيداى شي، عمومي يا هم خصوصي وي؛ په عمومي وقف کې ټول مسلمانان ترې استفاده کولای شي او په خصوصي وقف کې بيا هغه صنف او طائفه ترې ګټه اخيستلاى شي، چې (موقوف به) ورته تخصيص شوى وي.
وقف د يتيمانو، کونډو، بېوزلو او ټولنې نورو محرومو طبقاتو او پرګنو ته جواز او مشروعيت لري.
وقف ځان ته ځانګړي شرائط لري، چې بايد ورته د وقف د تطبيق پر مهال پوره توجه او پاملرنه وشي.
وقف په عمومي ډول صدقة جاريه ده او يو مستحب، مستحسن او ښه عمل دی، چې اسلامي شريعت ورته مسلمانان هڅولي او تشويق کړي دي؛ ترڅو د آخرت لپاره د وقف له لارې توښه او ثواب برابر کړي.
رسول الله -صلی الله عليه وسلم- فرمايي: (( إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثٍ: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ))[۹۸]. ژباړه: (يو شخص ته بعد له مرګ څخه صدقه جاريه، ګټور علم، او ښه نېک صالح اولاد ګټه رسولای شي).

### د وقف حکم

وقف يو لازم عقد دی، چې فسخ کول يې د فقهې د پوهانو پر وړاندې جواز نه لري. په وقف کې بايد د واقف ټول شرائط مد نظر ونيول شي؛ ترڅو د وقف فائده او ګټه موقوف (عليهم) ته ورسېږي.
وقف يو استمراري ټولنيز تکافلي عمل دی، چې معنوي ګټه يې وقف کوونکي ته او مادي ګټه يې موقوف (عليهم) ته رسېږي؛ خو که چېرته وقف تعطيل شي او ګټه اخيستل ترې ناشونې شي؛ بيا نو د عمومي مصلحت سره سم کېدلای شي دا تصرف او کړنه يې په اړه وشي، چې ګټه او ثواب يې د ټولو لپاره استمراريت پيدا کړي.

### حسنه قرضونه

حسنه قرض هغه مرسته او ټولنيز تکافل دی، چې په اساس يې مال او شتمني په ټولنه کې بياځلې وېشل کېږي او له دغې وېشې د ټولنې وګړي په وړيا توګه مستفيد کېږي؛ حسنه قرض د انسانانو په مالونو او شتمنيو کې برکت ښيندي او الله تعالی د دغه برکت له امله انسانانو ته په آخرت کې لوړې درجې او مرتبې ورکوي. په دغه اړه الله تعالی داسې فرمايي: ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ وَلَهُ أَجْرٌ كَرِيمٌ﴾[۹۹]. ژباړه: (څوك دی هغه کس چې الله تعالی ته قرض ورکړي، ډېر ښکلی قرض (حسن) نو چې هغه (الله) دغه (قرض) د دې لپاره دوه چنده کړي او د دې لپاره ډېر د عزت اجر دی).

[۹۸]: رواه مسلم ( ۱٦۳۱)
[۹۹]: الحديد : ۱۱.

د جاهلیت په دوران کې قرض ورکول په اساس د ربا او سود ول، چې اسلام دغه راکړه او ورکړه حرامه کړه او آن دا چې په اړه یې شریعت د جنګ اعلان وکړ او ربا اخیستونکی یې د الله تعالی او رسول دښمن وګڼه او ورته یې لارښوونه وکړه چې له دغې معاملې څخه لاس واخلي، که چاته یې قرض ورکړی وي؛ نو صرف خپل رأس المال چې اصل د مال دی، واخلي او له سود او ربا څخه توبه اوباسي. د حسنه قرض مفهوم همدغه دی؛ چې په معنوي توګه د قرض اجر او پاداش د الله تعالی له درګاه څخه وغوښتل شي او کوم مادي منفعت د حسنه قرض په ورکولو سره څوک ترلاسه نه کړي.

د یادولو وړ ده، که څوک په خپله خوښه او رضایت د حسنه قرض بیا اداینه په ښه توګه کوي او قرض ورکوونکي ته کوم امتیاز قائل کېږي، دا بیا پیغمبري اخلاق دي. رسول الله -صلی الله علیه وسلم- به کله هم قرض واخیستلو؛ نو د بیاځلې په اداء کولو کې به یې جانب د مقابل ته ښه او غوره اداینه کوله؛ خو په دې شرط چې د قرض اخېستونکي په رضایت وي او قرض ورکوونکي هم د ربا یا زیادت کوم شرط پرې نه وي ایښی.

**پایلیزه**

ټولنیز اقتصادي تکافل په اسلامي اقتصاد کې د مال د بیاځلي ویش یوه مهمه او با ارزښته آله ده، په اقتصادي تکافل سره اسلامي ټولنه کې د غربت او فقر کچه کمېږي، که چېرته واجبه مالي حقوق لکه: زکات او کفارات په شتمنیو کې په ښه ډول ادا شي، اقتصاد ورسره وده او پرمختګ کوي. تطوعي او خیري صدقات او خیراتونه که جنسي وي او یا هم نقدي د ټولنې په ټولنیز اقتصاد ښې اغیزې لري، د ټولنیز اقتصادي تکافل وسائل باید د حکومتونو لخوا په ښه ډول اداره او ماموریت شي؛ ترڅو یې اقتصادي مؤثریت په ټولنه کې ډېر شي. د مال تقسیمات او ویش باید په داسې توګه وشي، چې د ټولنې افراد پانګې اچونې ته تشویق او وهڅول شي، داسې نه چې د ټولنیز تکافل شتمنۍ صرف په استهلاکي توګه مصرف شي.

وړاندیزونه

۱- اسلامي نظام مسؤولیت لري، خلکو ته د کار او حلالې شتمنۍ د لاس ته راوړلو لپاره زمینه برابره کړي.

۲- که چیرته نظام د واجبه مالي مستحقاتو لپاره یوه اداره رامنځ ته کړي، اقتصادي اغیزمنتوب به یې په ټولنه کې ډېر وي.

۳- مسلمانانو ته لازمه ده؛ چې پخپلو شتمنیو کې مالي حقوق د عبادت او بندګۍ پر بنسټ اداء کړي.

۴- که چیرته شتمن مسلمانان مستحب صدقات او خیراتونه ورکړي، له آفتونو او ستونزو څخه به نجات اومومي.

**سرچينې**


قرآنکریم

موسوعة القرأن الكريم پښتو ژباړه

ابن منظور، (١٤١٤هـ)، لسان العرب. الطبعه الثالثة، دارالنفائس، بيروت، لبنان.

الحجاوي، ۲۰۰۳م، كتاب الإقناع، طبعة الاولى، الرياض، السعودية.

الخثلان، سعد بن تركي، ۲۰۱۲م، فقه المعاملات المالية، الطبعة الثانية، دار الصميعي للنشر، الرياض، السعودية.

السيوطي، جلال الدين، (۲۰۱۰م)، الفتح الكبير في ضمّ الزيادة إلى الجامع الصغير، الطبعة الثالثة، دارالقلم، وزارة الاوقاف، دولة قطر.

الشبيلي، يوسف، ١۴۲٦هـ، مقدمة في فقه المعاملات المالية وبعض التطبيقات المعاصرة، الطبعة الاولى، الرياض، السعودية.

الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم.( 1404 – 1983)، المعجم الكبير – الطبراني. الطبعة الثانية، الناشر: مكتبة العلوم والحكم – الموصل، عراق.

القشيري، مسلم بن الحجاج أبو الحسين، صحيح مسلم. الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت، لبنان.

النسفي، عمر بن محمد، ١٣١١هـ.ق، معجم الاصطلاحات الفقهية، المطبعة العامرة، مكتبة المثنى، بغداد، عراق.

الألفي، محمد جبر، (١٤٢٧هـ)، التأمين الصحي دراسة شرعية تطبيقية، مجلة الحكمة، العدد الثاني والثلاثون، مكة المكرمة، السعودية.

آل سيف، عبدالله بن مبارك بن عبدالله، (١٤٣١ هـ ق) أحكام التأمين الصحي التعاوني الفقهية، مجلة المجمع الفقهي، مكة المكرمة، السعوديه.

الآمدي، أبو الحسن سيد الدين علي بن أبي علي بن محمد بن سالم الثعلبي، (١٤٢٤ - ٢٠٠٣) الأحكام للآمدي، الناشر: دار الصميعي. الطبعة الاولى، بيروت، لبنان.

الببلاوي، حازم، ۲۰۰۰م، النظام الاقتصادي الدولي المعاصر، عالم المعرفة، الكويت.

البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة بن بردزبة، (١٤٠٧ – ١٩٨٧) الجامع الصحيح المختصر. الناشر: دار ابن كثير، اليمامة، الطبعة الثالثة، بيروت، لبنان.

البيهقي، أبوبكر أحمد بن الحسين، (١٤١٠)، شعب الإيمان، الطبعة الأولى، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان.

الجُرجاني، علي بن محمد بن علي الشريف الحسني، (٧٤٠- ٨١٦ هـ / ١٣٣٩ -١٤١٣ م)، التعريفات للجرجاني، دارالنفائس، القاهرة، مصر.

الجليلي، عبدالرحمن، (١۴۲٦)، تملك الأموال وتدخل الدولة في الاسلام، طبعة الاولى، الرياض، السعودية.

حسن أيوب، (۲۰۰۳م)، فقه المعاملات المالية في الإسلام، الطبعة الأولى، دارالسلام، القاهرة، مصر،

حطاب، توفيق كمال، اتجاهات البحث العلمي في الاقتصاد الإسلامي، جامعة اليرموك، إربد، ۲۰۰۷م.

خلف بن السليمان بن صالح النميري، ۲۰۰۱م، النظم الاقتصادية المعاصرة، الطبعة الاولى، المكة المكرمة، السعودية.

الرازي، محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر، (١٤١٥ - ١٩٩٥) مختار الصحاح، الطبعة طبعة الثالثة. الناشر: مكتبة لبنان ناشرون، بيروت، لبنان.

زيدان، عبدالكريم، ١٩٩٠م، القيود على الملكية الفردية للمصلحة العامه، دارالسبيل، المنامة، البحرين.

السعيدي عبدالله بن محمد (٢٠٠٦م)، النظام الاقتصادي في الاسلام، الطبعة الثانية، مكتبة الرشيد، الرياض، السعودية.

السيوطي، جلال الدين، (٢٠١٠م)، الفتح الكبير في ضمّ الزيادة إلى الجامع الصغير، الطبعة الثالثة، دارالقلم، وزارة الاوقاف، دولة قطر.

السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين، جامع الأحاديث، (٢٠٠٣م)، دارالسلام، القاهرة، مصر.

شبير، محمد عثمان، ٢٠٠٧م، المعاملات المالية المعاصرة في الفقه الإسلامي، الطبعة السادسة، دار النفائس، الاردن.

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute
Journal license date: June/2023

# التكافل الاقتصادي الاجتماعي في الإسلام

**پوهنوال دكتور خواجه محمد عصامي**
قسم الثقافة الإسلامية، كلية الشريعة، جامعة كابل. افغانستان.
البريد الالكتروني: khuwajahmuhammad@gmail.com

**خلاصة البحث بالعربية**

الطبيعة الإنسانية طويتها البخل والإمساك؛ وهذا الأمر يؤدي إلى عدم أداء الحقوق الواجبة في الأموال؛ وهذه المسألة بالطبع يقود المجتمع إلى الفقر والبطالة والعطالة؛ فإذا أدى المسلم الحقوق المالية الواجبة؛ ساهم ذلك في التكافل الاقتصادي الاجتماعي في المجتمع؛ فالبحث والتحقيق يهدف إلى تحليل وتطبيق التكافل الاقتصادي وآلياته في مجال الاقتصاد الإسلامي في المراكز العلمية الجامعية؛ لتعم الفائدة العامة من وراء ذلك؛ وبالتالي سيؤدي الأمر إلى الإصلاحات الاقتصادية والاستثمارية في المسائل الاقتصادية؛ وهذا الأمر سيؤدي إلى استتباب الأمن والأمان في المجتمع الإسلامي وستقلل من نسبة الجرائم المالية؛ وقد استعمل المنهج التحليلي والتطبيقي في هذه الدراسة؛ وذلك بتحليل النصوص الشرعية وتطبيقها على الواقع في التكافل الاقتصادي الاجتماعي؛ آملا بذلك تقليل نسبة الفقر والبطالة في المجتمع الإسلامي من جانب وتوطيد الأمن والأمان في المجتمعات الإسلامية من جانب آخر؛ وذلك بإعادة توزيع الأموال عن طريق التكافل الاقتصادي الاجتماعي في المجتمع الإسلامي.

**الكلمات المفتاحية**: التكافل، الاقتصاد، الاجتماع، الاسلام، الزكاة.

الاقتباس: الأستاذ المشارك دكتور خواجه محمد عصامي، التكافل الاجتماعي في الاسلام، عام النشر: (۱۴۰۳)، عينك مجلة علمية وتحقيقة، السنة الاولى، الرقم: الثانى، الصفحات: ۱۴۳- ۱۶۲.
ناشر: مؤسسۀ تحصيلات عالى لوگر
حق‌مؤلف © نويسندگان.